

1 درسول الله ﷺ د لمانځه طريقه..

1
ژباړه: د امام او منفرد دواړو لپاره ستړې ته لمونځ کول سنت طريقه ده, او د امام ستره د وروسته مقتديانو لپاره هم ستره ده.


ژباړه: او د سجدې ځاى ته به ګوري او يو طرف يا بل ته به التفات نه کوي.




2
ژباړه: او د دواړو قدمونو ترمنځ به دومره فاصله راولي څومره چې يې د اوږو ترمنځ فاصله ده, او له دې څخه به نه زياتوي او نه به يې کموي , او قدمونه به يې هر طرف نه دواړه بر ابروي.



3
ژباړه : کله چې په ټولو شرطونو سره ر اتګ وکړ, بيا به "الله اكبر" وو ايي, سره د لاسونو اوچتولو نه د غوږويا د اوږو بر ابرپورې چې ګوتې به يې پيوسته شوې وي, او د دواړو لاسونوورغوى به يې قبلې لورې ته وي.



4
ژباړه: بيا به "پخپله سينه" باندې د خپل ښي لاس دننه حصه د چپ لاس په بهرنۍ حصه په مړوند او مټ باندې دې کيږدې او يا دې قبض کړي «ونيسي» .



5
ژباړه: بيا ورته يواځې په لومړي ركعت کې "دعاء الاستفتاح" ويل مستحب دي. او غوره طريقه داده چې په ټولو ثابت شوو دعاګانو وو ايي چې کله يوه او کله بله. لکه يوه دعا داده: سُبحَانك اللَّهم وبحَمْدِك وتبارك اسْمُك، وتعـالى جَدُّك، ولا إله غَيْرك".


ژباړه: بيا به اعوذ بالله وو ايي, په هغه الفاظو چې صحيح ثابت شوي, لکه چې و ايي به "أعـوذُ باللهِ منَ الشيطانِ الرجيمِ".

ژباړه: بيا به بسم الله الرحمن الرحيم وو ايي, او سورت فاتحه به ولولي, په صحيح ترتيب د ايتونو او کلماتو او حروفو او حركاتو سره.

بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ ﴿١﴾ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٢﴾ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ ﴿٣﴾ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ ﴿٤﴾ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ﴿٥﴾ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿٦﴾ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ ﴿٧﴾

ژباړه: بيا مستحبه طريقه داده چې د اعوذبالله نه به بغير د قر انكريم كوم اسان أياتونه وي ورته هغه دي تلاوت کړي, او بسم الله به يواځې په اول د سورت کې لولې.

6
ژباړه: بيا به دواړه لاسونه اوچت کړي لکه څرنګه يې چې په لومړي تكبير کې او چت کړي و, او "الله اكبر" به وو ايي, او رکوع به وکړي, او زنګونونو باندې به خپلې منګولې ولږوي, او خپلې څنګلې به نه ر اټولوي ,او خپله ملا به د سر سره بر ابره کړي, او وجوبا «خامخا» به يو ځل "سبحان ربي العظيم " وو ايي. او مستحبه ده چې هغه ډير ځله وو ايي او كومې نورې دعاګانې چې حديث کې ر اغلې دي.




7
ژباړه: بيا به راوچتيدلو سره سم چې لا دربدل نه وي "سمع الله لمن حمده " وو ايي. سره د لاسونو اوچتولو نه د غوږونو يا د اوږو بر ابر فورې.

ژباړه: پس کله چې بر ابرودريده "ربنا ولك الحمد "به وو ايي, او مستحبه ده چې نور هغه اذکارپکې إضافه کړي کوم چې په حديثونو کې ثابت شوي.


ژباړه : او بيا به بغير د دواړه لاسونو اوچتولو نه تكبير وكړي, او په اووه اندامونو به سجده وکړي, کوم چې تندى, د دواړه لاسونو دننه حصه, دواړه زنګونونه , او د پښو د ګوتو دننه حصه ده تول به فه زمکه ولګوي.

ژباړه: او جداوالى به راولي د څنګلو او د خيټې او وورون ترمنځ, او د ورون او لښکو ترمنځ, او خپلې څنګلې به د ځمکې نه اوچتې ساتي.

8
ژباړه: او بيا به "سبحان ربي الأعلى "يو ځل وجوبا «خامخا» و ايي, او مستحبه ده چې كوم اذكارثابت دي ډيرځل يې وو ايي, او هره دعا چې يې خوښه وي کولاى يې شي, خو غوره داده چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم نه ثابت شوې دعاګانې وو ايي.




9
ژباړه: بيا به تكبيروکړي او پخپله چپه پښه به وغوړوي او فرې کې به ني.
او ښي پښه به ودروي او ګوتې به يې قبلې ته کړي, او خپل دواړه لاسونه به د ورون په اخري حصه کيږدي,او وبه و ايي"رب اغفر لي" دارنګه ناسته به په ټولو ناستو کې کوي, بغير د درې ركعتي او څلور ركعتي لمونز اخري قاعدې نه چې هغې کې به «تورك كوي» , تورك معنى داده چې خپله چپه پښه به د ښي پښې لينګو نه لاندې کړي «او چپ کوناټې به فه زمکه ولګوي»



10
ژباړه: بيا به تكبيروکړي او د لومړی سجدې غوندې سجده به وکړي, بيا به تكبيروکړي او دويم رکعت ته به پاڅيږي, او د لومړي ركعت غوندې اعمال دې پکې وکړي, يواځې توپيرپکې دا دی چې دويم ركعت کې د احرام تكبير او د استفتاح دعاء نه نشته.

ژباړه: کله چې د دويمې سجدې نه فارغه شي د تشهد لپاره دې کښيني.


ژباړه: او د تسبيح , تشهد په ګوته به اشاره کوي,او منځينۍ او موتۍ ګوته به راغونډې کړي, هغې ته به حركت وركوي او دعاء به پرې کوي.



ژباړه: او تشهد به وو ايي, او بيا به ابراهيمي درود وو ايي هغه داسې: « التحيات لله، والصلوات والطيبات، السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته، السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين، أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله ، اللهم صل على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم؛ إنك حميد مجيد، اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم ؛ إنك حميد مجيد.

ژباړه: بيا به د څلورو شيانو نه پناه وغواړي, كومې چه فه لاندې دعاء کې دي؛ او وبه و ايي: « اللهم إني أعـوذ بك من عذاب جهنم ، وأعـوذ بك من عذاب القبر ، وأعوذ بك من فتنة الدجال ، وأعـوذ بك من فتنة المحيا والممات » ،او دعاء به وکړي په هغه چې ددې خوښه وي، او غوره داده چې هغه دعاګانې وکړي كومې جه حديثونو کې ثابت دي, سره د دې وينا نه: « اللهم أعنّي على ذكرك وشكرك وحسن عبادتك ».

ژباړه: بيا به دوه سلامه ښي او چپ لورې ته واړوي, او وبه و ايي «السلام عليكم ورحمة الله» او يواځې سر به ښي او چپ لورته ګرځوي نه اوږې, او دارنګه سر ته به هم بره او خکته طرف ته حركت نه وركوي, او نه به په لاسونو اشاره کوي.



« ترتيب كوونكى: دكتورهيثم سرحان, په مسجد نبوي کې مدرس, او په "معهد السنة" باندې اشراف كوونكى. : mahadsunnah.com »

